



# Orientation to Ontario

# پیسې او شخصي مالي چارې

1-855-626-0002
https://settlement.org/o2o




### د بانکونو او کرېډېټ اتحادیې

بانکونه او د کرېډېټ اتحادیې ډېر مالي خدمتونه وړاندې کوي په شمول:

- چک او سپما حسابونه.
- په اتوماتیک بانکدارۍ یا ټیلر ماشین (ABM یا ATM) کې ستاسو حسابونو ته د لاسرسي لپاره د ډیبیټ کارتونه او د انټریک پوائنټ آف سیل پیرود لپاره.
- 24ساعته انټرنیټ او تلیفوني بانکداري.

کریډیټ کارتونه، د کریډیټ کرښې، پورونه، ګروي.

- د پانګونې محصولات او مالي پلان جوړونه.

ځینې بانکونه او کرېډېټ اتحادیې د خدمتونو په مقابل کې میاشتني فیس اخلي، خو ځینې داسې بانکونه هم شته چې له فیس پرته بانکي اختیارونه وړاندیز کوي. د هر حساب تر پرانیستلو دمخه د بانکي فیسونو په اړه پوښتنه وکړئ. تاسو باید د پېژندنې دوه سندونه وړاندې کړئ: یو هغه چې ستاسو عکس او لاسلیک لري او بل چې ستاسو پته ښیي.

### کرېډېټ

کرېډېټ کارتونه او پورونه د کرېډېټ ترټولو عام ډولونه دي. کله چې تاسو کرېډېټ کاروئ، نو تاسو پسې به د پور ورکوونکي لخوا سود حسابیږي (معمولا د بانک یا کرېډېټ کارت شرکت). د سود نرخ د ټول اخیستل شوي پور دمقدار فیصدي ده.

څومره چې د پور بېرته ورکول ډېر وخت نیسي، هومره ډېر سود به ورکړئ. د کرېډېټ او پورونو د بېلابېلو ډولونو په اړه د نورو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره کاناډا ته ښه راغلاست لاربنود ولولئ: canada.ca یا findlink.at/welcomecan

ستاسو د کرېډېټ یا باور مخینه ستاسو د تېرو پورونو، کرېډېټ او تادیاتو ریکارډ دی. ډېری خلک د کرېډېټ کارت سره د خپل اعتبار یا کرېډېټ تاریخ جوړول پیلوي. د کرېډېټ مسؤلیت کارول پور ورکوونکو ته ښیي چې تاسو د پور لپاره ښه نوماند یاست. ستاسو په بانک کې د یو چا سره د نوي راغلو لپاره د کریډیټ کارت پروګرامونو په اړه خبرې وکړئ.

د نورو معلوماتو لپاره د کاناډا مالي مصرف کوونکي ادارې fcac-acfc.gc.ca ته مراجعه وکړئ.

د درغلۍ او د هویت غلا په اړه د معلوماتو لپاره د کاناډا آنلاین مصرف کوونکي لاسي کتاب ولولئ:

consumerhandbook.ca یا findlink.at/CCHanbook.

### مالیې

په کاناډا کې حکومتونه د عامه خدمتونو او زیربناوو لکه روغتیایي پاملرنو، ښوونځیو او لویو لارو لپاره مالیه کاروي. د مالیاتو د بېلابېلو ډولونو د توضیح لپاره، په دې لینک ontario.ca یا findlink.at/Finance مالیې وزارت ته مراجعه وکړئ.

په عایداتو مالیه - که تاسو د کاناډا اوسېدونکي یاست، تاسو باید هر کال د کاناډا عوایدو ادارې (CRA) سره پر عایداتو د مالیې فورمه ډکه کړئ.

د ډېری کارکوونکو مالیه د دوی له معاشونو څخه اخیستل کیږي - قراردادي کارکوونکی او شخصي کاروبار لرونکي باید خپله مالیه ورکړي.

ځیني خلک د شته لګښتونو او کرېډېټ تر ثبتولو او ادعا وروسته د CRA څخه پیسې بېرته ترلاسه کوي. د د فدرال د مالیاتو اظهارلیک یا فورمه هم پر ایالتي عایداتو د مالیې برخه لري. کولی شئ پرعایداتو د مالیې د ټولنې د رضاکارانه پروګرام نه مرسته ترلاسه کړئ.

د نورو معلوماتو لپاره، د کاناډا د عوایدو ادارې (CRA) ته مراجعه وکړئ canada.ca یا findlink.at/incometax.

**په خرڅلاو مالیه** - په اونټاریو کې ټول مصرف کوونکي د لګښتي توکو او خدمتونو په په خرڅلاو

Funded by / Financé par :

Ontario


Immigration, Refugees and Citizenship Canada

Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada

منل شوې مالیه (HST) ورکوي. پر اړینو توکو لکه خوراکي مواد، پوښاک او د ماشومانو لباس باندې مالیه نه‌شته. د اونټاریو HST د خرڅلاو قیمت 13 سلنه دی. د اونټاریو اوسېدونکي چې ټیټ یا منځنی عاید لري د CRA څخه د HST یوه کوچنۍ برخه بېرته ترلاسه کوي. تاسو کولی شئ د خپلو کلنیو عایداتو مالیې د فورم له لارې د HST کریډیټ غوښتنه وکړئ. د تادیاتو اندازه ستاسو د عاید په کچه پورې اړه لري.

د HST اعتبار (کرېډېټ) په اړه د نورو معلوماتو لپاره canada.ca یا findlink.at/GST-HST وګورئ.

**د ملکیت مالیه** - د ملکیت مالکان باید ښاروالۍ ته مالیه ورکړي. د ښاروالۍ حکومت د دې مالیې د کچې تصمیم نیسي او د مالیې نرخ د ملکیت د ارزښت له مخې ټاکل کېږي. که تاسو خپل کور یا کاروبار په کرایه ور کړئ، تاسو اړ نه یئ چې د ملکیت مالیه ورکړئ، خو د ملکیت مالیې لګښت د هغه څه برخه ده چې د کرایې نرخونه ټاکي.





## د مالیاتو اعتبار او ګټې

د اونټاریو اوسېدونکو ته د دوی د اظهارلیک یا پر عایداتو مالیه د بېرته ستنیدو فورمې پر اساس ډېر عایدي ملاتړ شته، لکه د HST اعتبار (کرېډېټ). مالیاتي فورمه یا اظهارلیک حتی که تاسو عاید هم ونه لرئ اړین او مهم دی.

دوه مهم کرېډېټونه له کاري عایداتو مالیې ښېګڼه یا ښه‌والی (WITB) Working Income Tax Benefit او د کاناډا د ماشومانو ښېګڼه (CCB) Canada Child Benefit څخه عبارت دي.
WITB او CCB ستاسو د عاید پر بنسټ دي. په یاد ولرئ چې ستاسو ښځه یا د ژوند حقوقي شریک مو هم باید هر کال د مالیې اظهارلیک یا د بېرته ستنېدنې فورمه ډکه کړي ترڅو د مالیې د کرېډېټ او نورو ګټو لپاره ور وي.

د مالیاتو اعتبار (کرېډېټ) او ګټو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، د canada.ca یا findlink.at/cra-bnft کاناډا عوایدو ادارې ته مراجعه وکړئ.

## اړینه یادونه

**د پیژندنې لپاره د اونټاریو د موټر چلولو جواز (لایسنس)یا عکس کارت په کارولو سره خپل هویت خوندي کړئ.**

**د خپل ټولنیز بیمې شمېره مه کاروئ.**

